

شپړمه ناحیه چې د بدخشان ولایت په فیض آباد ولسوالۍ کې موقعیت لري یوه غیر رسمي سیمه ده او د نویو داخلي بېځایه شویو راټګ سره د دې سیمې موجودې سرچینې چې له پخوا هم محدودې وې لا زیاتې محدودې شوې. © IOM ۲۰۱۸

DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

## بدخشان

د پايلي لنډيز

اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم داسې يو سيستم دی چې د خلکو د بېځايه کېدنې او تحرک له بهير څخه تعقيب او څارنه کوي. دا سيستم په سيستماټيک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سيمه او يا لاره کې د بېځايه شويو خلکو هغه اړتياوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټيزه وسيله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځايه شويو کسانو د نفوس کچه او موقعيت تشخيص، د بېځايه کيدو علت، اصلی سيمې، د بېځايه کېدو مهال، لومړني ډيموګرافيکي معلومات، زيانمنتياوې او د اړتياوو د لومړيتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کليو په کچه د ډله ايزو بحثونو، مخامخ کتنو او کليدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړيوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پياوړتيا ورکوي چې سرچينې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړيتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پايدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بيا يوځای کېدنې، ثبات او پراختيا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعيتونو کټګوريو موقعيت، نفوس او څو سکټوريزې اړتياوې څاري:

۱. بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ مياشتو لپاره د هيواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنيو هېوادونو ته تللي او يا کډه يې کړې وي

داخلي بېځايه شوي په لاندې درېو کټګوريو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

د ارزول شويو کليو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځايه شويو په توګه يې خپلې سيمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په يوې بلې سيمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

د نورو سيمو څخه داخلي بېځايه شوي کسان چې اوسمهال په يوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شويو کليو څخه پخوا د داخلي بېځايه شويو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعيتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځايه کېدنې پر مهال د دې زماني چوکاټ پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۲۵** ولسوالۍ وارزول شوې
**۵۱۲** کلي وارزول شول

**۳،۲۶۱**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۵۶،۵۴۴**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴۴،۵۴۰**
داخلي بېځايه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۴۰،۳۸۵**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۶۵،۳۱۴**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴،۹۵۹**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۸٪)

**۴۰۴**
راستنيدونکي او داخلي بېځايه شوي په خېمو او يا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۳**
د ټولو رارسېدليو داخلي بېځايه شويو کسانو له ډلې ۶۰٪ کسان يوازې په ۳ ولسواليو کې مېشت دي: بهارک، فيض آباد و کشم

**۵ څخه ۱**
کس (۱۸٪ وګړي) د ټولو راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو له ډلې په کشم ولسوالۍ کې مېشت دی

**۴ څخه ۱**
کورنۍ (۲۴٪) په کشم ولسوالۍ کې ښوونځي ته هېڅ لاسرسی نلري

**۹،۰۲۲**
کسان په شهر بزرګ ولسوالۍ کې روغتيايي خدماتو ته اړتيا لري (۶۱٪)

**۵،۶۵۰**
کسان په شهر بزرګ ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۳،۳۵۵**
کسان (۲۲٪) په بهارک ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځايه شوي کسان | د ولسواليو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فيض آباد | ۷۴,۰۳۱ | ۹,۹۸۵ | ٪۱۲ | ۱,۴۲۱ | ٪۲ | ۱۳,۹۷۵ | ٪۱۹ | ۸,۵۶۴ | ٪۱۰ | ۲,۶۹۷ | ٪۴ | ۸۷۱ | ٪۱ |
| يفتل سفلی | ۵۷,۶۱۳ | ۹۷۶ | ٪۲ | ۶۹۳ | ٪۱ | ۶,۲۲۱ | ٪۱۱ | ۲۸۳ | ٪۰ | ۳,۶۵۱ | ٪۶ | ۴۲۷ | ٪۱ |
| ارگو | ۸۵,۵۸۶ | ۱,۲۳۵ | ٪۱ | ۱,۲۲۸ | ٪۱ | ۴,۰۰۵ | ٪۵ | ۷ | ٪۰ | ۹۹۸ | ٪۱ | ۱,۵۱۴ | ٪۲ |
| ارغنجخواه | ۱۷,۵۷۸ | ۷۲ | ٪۰ | ۶۶ | ٪۰ | ۶۶۵ | ٪۴ | ۶ | ٪۰ | ۳,۳۶۰ | ٪۱۹ | ۰ | ٪۰ |
| کوهستان | ۱۸,۰۹۲ | ۲۵۹ | ٪۱ | ۲۵۹ | ٪۱ | ۱,۹۶۲ | ٪۱۱ | ۰ | ٪۰ | ۳۷۸ | ٪۲ | ۱۲۴ | ٪۱ |
| راغستان | ۴۳,۲۴۳ | ۱,۳۵۷ | ٪۳ | ۵۰۳ | ٪۱ | ۲,۲۹۳ | ٪۵ | ۸۵۴ | ٪۲ | ۵۵۳ | ٪۱ | ۵۰۲ | ٪۱ |
| ياوان | ۳۵,۴۱۴ | ۱۸۱ | ٪۱ | ۱۶۰ | ٪۰ | ۲,۶۰۶ | ٪۷ | ۲۱ | ٪۰ | ۵۶۷ | ٪۲ | ۱۶۰ | ٪۰ |
| شهربزرگ | ۵۷,۰۹۹ | ۱۴,۸۰۷ | ٪۲۱ | ۱۰,۵۸۶ | ٪۱۵ | ۱۱,۹۸۹ | ٪۲۱ | ۴,۲۲۱ | ٪۶ | ۲۳,۱۶۸ | ٪۴۱ | ۱۰,۸۰۲ | ٪۱۹ |
| تشکان | ۳۲,۵۹۲ | ۵,۲۸۲ | ٪۱۴ | ۴,۰۹۸ | ٪۱۱ | ۷,۹۴۴ | ٪۲۴ | ۱,۱۸۴ | ٪۳ | ۷,۵۷۰ | ٪۲۳ | ۳,۹۳۶ | ٪۱۲ |
| درايم | ۶۷,۲۳۷ | ۶,۴۳۴ | ٪۹ | ۵,۴۱۲ | ٪۷ | ۳,۴۹۷ | ٪۵ | ۱,۰۲۲ | ٪۱ | ۵,۹۰۳ | ٪۹ | ۷,۹۵۳ | ٪۱۲ |
| خاش | ۴۱,۵۷۵ | ۱,۷۳۱ | ٪۴ | ۱,۴۸۹ | ٪۳ | ۳,۴۷۵ | ٪۸ | ۲۴۲ | ٪۱ | ۲۲۴ | ٪۱ | ۶۸۶ | ٪۲ |
| بهارک | ۳۱,۴۳۸ | ۱۵,۰۲۹ | ٪۳۲ | ۴,۸۸۸ | ٪۱۱ | ۴,۸۷۶ | ٪۱۶ | ۱۰,۱۴۱ | ٪۲۲ | ۸,۲۹۸ | ٪۲۶ | ۵,۸۳۴ | ٪۱۹ |
| شهدا | ۳۷,۷۲۴ | ۱,۶۴۵ | ٪۴ | ۱,۰۵۶ | ٪۳ | ۲,۴۶۴ | ٪۷ | ۵۸۹ | ٪۱ | ۳,۲۰۴ | ٪۸ | ۲۲۶ | ٪۱ |
| شېغنان | ۳۰,۴۱۱ | ۱,۰۱۱ | ٪۳ | ۸۵ | ٪۰ | ۴,۴۸۹ | ٪۱۵ | ۹۲۶ | ٪۳ | ۱۶,۹۳۸ | ٪۵۶ | ۲۲۱ | ٪۱ |
| دروازه بالا | ۲۵,۲۷۸ | ۸۸۰ | ٪۳ | ۸۸۰ | ٪۳ | ۸۷۱ | ٪۳ | ۰ | ٪۰ | ۱,۲۸۵ | ٪۵ | ۱,۵۱۲ | ٪۶ |
| کوف آب | ۲۴,۳۷۹ | ۲,۲۲۱ | ٪۸ | ۲,۲۲۱ | ٪۸ | ۲,۶۱۸ | ٪۱۱ | ۰ | ٪۰ | ۱۸۲ | ٪۱ | ۲,۳۴۷ | ٪۱۰ |
| خواهان | ۱۸,۰۹۳ | ۸۲۸ | ٪۴ | ۵۶۲ | ٪۳ | ۵۱۱ | ٪۳ | ۲۶۶ | ٪۱ | ۷۷ | ٪۰ | ۷۹۶ | ٪۴ |
| کشم | ۸۸,۲۸۱ | ۱۸,۲۴۶ | ٪۱۷ | ۱۰,۴۱۴ | ٪۱۰ | ۷,۴۰۲ | ٪۸ | ۷,۸۳۲ | ٪۷ | ۴,۲۷۲ | ٪۵ | ۱۳,۱۳۲ | ٪۱۵ |
| تگاب | ۳۰,۶۶۸ | ۶,۴۸۵ | ٪۱۷ | ۵,۰۷۸ | ٪۱۴ | ۲,۸۰۲ | ٪۹ | ۱,۴۰۷ | ٪۴ | ۱۱,۰۰۶ | ٪۳۶ | ۷,۴۰۰ | ٪۲۴ |
| جرم | ۴۱,۱۵۹ | ۶,۹۱۶ | ٪۱۴ | ۲,۳۸۷ | ٪۵ | ۶,۴۰۱ | ٪۱۶ | ۴,۵۲۹ | ٪۹ | ۹۵۳ | ٪۲ | ۶۱۶ | ٪۱ |
| اشکاشم | ۱۵,۱۴۱ | ۱,۲۳۳ | ٪۸ | ۵ | ٪۰ | ۳۱۶ | ٪۲ | ۱,۲۲۸ | ٪۷ | ۲۱۰ | ٪۱ | ۰ | ٪۰ |
| درواز | ۲۸,۸۶۹ | ۲,۱۵۴ | ٪۷ | ۱,۸۴۱ | ٪۶ | ۲,۱۴۹ | ٪۷ | ۳۱۳ | ٪۱ | ۲۵,۶۶۴ | ٪۸۹ | ۳,۵۶۸ | ٪۱۲ |
| شکي | ۲۸,۷۴۳ | ۱,۷۴۵ | ٪۶ | ۱,۰۵۷ | ٪۳ | ۱,۱۶۸ | ٪۴ | ۶۸۸ | ٪۲ | ۱۰,۱۵۲ | ٪۳۵ | ۲,۵۸۰ | ٪۹ |
| زيباک | ۸,۵۹۸ | ۱۸۳ | ٪۲ | ۱۹ | ٪۰ | ۵۱۸ | ٪۶ | ۱۶۴ | ٪۲ | ۷,۲۱۰ | ٪۸۴ | ۳۴ | ٪۰ |
| واخان | ۱۶,۲۹۶ | ۱۸۹ | ٪۱ | ۱۳۶ | ٪۱ | ۲۰۳ | ٪۱ | ۵۳ | ٪۰ | ۱,۸۶۵ | ٪۱۱ | ۷۳ | ٪۰ |
| مجموعه | ۱,۰۱۷,۴۹۹ | ۱۰۱,۰۸۴ | ٪۹ | ۵۶,۵۴۴ | ٪۵ | ۹۵,۴۲۰ | ٪۹ | ۴۴,۵۴۰ | ٪۴ | ۱۴۰,۳۸۵ | ٪۱۴ | ۶۵,۳۱۴ | ٪۶ |

** د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائيې او معلوماتو ملي اداري (NSIA) اټکل    سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪

** په بدخشان ولايت کې د ۲۸ ولسواليو له جملې يوازې ۲۵ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ وې او ارزول شوي دي نو ځکه د پورتنيو ۲۵ ولسواليو مجموعه د بدخشان ولايت مجموعي نفوس سره چې په پورتني جدول کې ليکل شوی يوشان نده.



سيلاب ځپلي داخلي بېځايه شوي کسان په شکي ولسوالۍ کې نويو جوړو شويو خيمو کې ژوند کوي. سيلاب فزيکي زيربناوو ته د زيان رسولو سربېره پاکو اوبو او خوړو ته هم لاسرسی محدود کړی. © IOM ۲۰۱۸

## تکلار

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم د تحرکاتو بنستيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقيب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستېنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبيله وي ډلو، کوچيانو او نړيوالو کارګرانو د نفوس، موقعيت او جغرافياوي تقسيماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستېدو لاملونه، اصلي او د موخې سيمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بېاځلي بېځايه کېدنه، د جمعيتونو شمېر، د زيانمنتيا کچه او اوليه ارتياوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کاركوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کليدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ايزو بحثونو له لارې د کليو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سيمه ايز کارکوونکي د مستقيمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنيت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنيتي خطرونو له امله سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته سمارټ ټيليفونونه يا ټابليټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسيله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تاييد وشي او د ارزونې پروسه په ګړنديتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لورې تري کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تاييد شوې نو د موبايلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقيم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بيا دا ډېټا يا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفيه او تاييد کېږي. دا دقيقه بياکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کيفيت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات يا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کليو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او يا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعيتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کليو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغليو او وتليو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعيتونو لپاره په هغو کليو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کليدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولايتونه ارزولي دي په راتلونکې کې به يوازې د کليو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنستيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کليدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کليو په کچه معلومات له کليدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ايزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د څو سکتوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جندر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. که څه هم په بدخشان ولايت کې د کليدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه يوازې ۲٪ يې ښځې دي خو دا شمېر د ۲۰۱۷ کال مارچ مياشتې د هېواد د کچې ښځينه کليدي معلومات ورکوونکو شمېر (۰.۱٪) په پرتله پرمختګ ښيي.

**۳،۲۶۱**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۹۲**
کليدي معلومات ورکوونکي يا راستنيدونکي دي او يا هم داخلي بېځايه شوي (۶٪)

**۵۷**
ښځينه کليدي معلومات ورکوونکي (۲٪)

**۵۱۰**
له کوربه ټولنو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۱۶٪)


**۳،۲۰۴**
نارينه کليدي معلومات ورکوونکي (۹۸٪)

**۸۸۵**
څو سکتوريز او ټولنيزو خدماتو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)


**۶,۴**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۸۳۷**
له سيمه ايزو چارواکو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۵٪)

د ډول پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | بدخشان




د ډول او جنسيت پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | بدخشان



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شوېو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجسټر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه بدخشان ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ٪۷۰ کموالی شوی خو په ۲۰۱۷ کال کې ٪۲۱ زیاتوالی او په ۲۰۱۸ کال کې ٪۴۶ زیاتوالی شوی.

**۵۶،۵۴۴** بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۴،۳۵۶** پاکستان څخه راستنېدونکي (٪۸)


**۴۹،۸۸۸** له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (٪۹۳)


**۴۹،۵۲۹** ایران څخه راستنېدونکي (٪۸۸)


**۳،۹۹۷** له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (٪۷)


**۲،۶۵۹** غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (٪۵)




# رارسيدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ يا وسله والو جګړو، تاوتريخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او د طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړې شويو پېښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شوېو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۴۴،۵۴۰**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلی بېځايه شوي کسان


**۶۰٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۱۰،۱۴۱**
بهارک ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولايت په کچه تر ټولو لوړ شمېر


**۴۰٪**
د طبيعی پېښو له امله بېځايه شوي


**۲،۸۹۴**
داخلي بېځايه شوی په غير رسمي سيمو کې مېشت دی (۶٪)


**۹۰٪**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي







# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

پـه عمومـي توګـه بدخشـان ولایـت لـه ټولټـال ۱۰۱،۰۸۴ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایه شـویو څخه کوربه توب کوي چې ۵۶٪ (۵۶،۵۴۴ کسـان) راسـتنېدونکي او ۴۴٪ (۴۴,۵۴۰ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانـدې جـدول کـې د بدخشـان ولایـت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولو زیاتـو بېځایه شـویو او راسـتنېدونکو راتګ څخه اغیزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د بدخشـان ولایـت ۵۱۲ ارزول شـویو کلیـو څخـه ۴٪) د ټـول ولایـت ۲۵٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربه توب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتۍ پـر وړانـدې چـې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ تـه شـوې حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محدودې شـوې سرچینـې او کاري فرصتونـو لا نـور هـم محـدود کـوي.


## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | ناحیه ششم | فیض آباد | ۴,۳۲۳ |
| ۲ | حلیم آباد | کشم | ۱,۴۱۴ |
| ۳ | خرد خان | شهربزرګ | ۱,۳۲۴ |
| ۴ | خشکه دره | کشم | ۱,۲۹۹ |
| ۵ | مومن آباد | کشم | ۱,۲۳۷ |
| ۶ | مزار | بهارک | ۱,۲۳۵ |
| ۷ | انیس آباد | کشم | ۱,۲۳۱ |
| ۸ | بتاش | فیض آباد | ۱,۲۰۹ |
| ۹ | روبابی | بهارک | ۱,۱۶۳ |
| ۱۰ | نو آباد ګندم قول | کشم | ۱,۱۴۵ |
| ۱۱ | دوبندي | بهارک | ۱,۰۸۷ |
| ۱۲ | چی چی آردآر پایین | بهارک | ۱,۰۳۱ |
| ۱۳ | سر آسیاب | کشم | ۹۷۵ |
| ۱۴ | توغک | بهارک | ۹۶۹ |
| ۱۵ | ناحیه پنجم | فیض آباد | ۹۵۴ |
| ۱۶ | خم بوک | تګاب | ۹۴۴ |
| ۱۷ | کوهک | بهارک | ۹۲۳ |
| ۱۸ | خشکه دره پایین | کشم | ۹۱۷ |
| ۱۹ | شریف آباد | شهربزرګ | ۹۱۳ |
| ۲۰ | خیر آباد | بهارک | ۸۷۶ |
| | | مجموعه | ۲۵,۱۶۹ |





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| ارغنجخواه | ۶۶ | ۶ | ۷۲ |
| ارګو | ۱,۲۲۸ | ۷ | ۱,۲۳۵ |
| اشکاشم | ۵ | ۱,۲۲۸ | ۱,۲۳۳ |
| بهارک | ۴,۸۸۸ | ۱۰,۱۴۱ | ۱۵,۰۲۹ |
| تشکان | ۴,۰۹۸ | ۱,۱۸۴ | ۵,۲۸۲ |
| تګاب | ۵,۰۷۸ | ۱,۴۰۷ | ۶,۴۸۵ |
| جرم | ۲,۳۸۷ | ۴,۵۲۹ | ۶,۹۱۶ |
| خاش | ۱,۴۸۹ | ۲۴۲ | ۱,۷۳۱ |
| خواهان | ۵۶۲ | ۲۶۶ | ۸۲۸ |
| درایم | ۵,۴۱۲ | ۱,۰۲۲ | ۶,۴۳۴ |
| درواز | ۱,۸۴۱ | ۳۱۳ | ۲,۱۵۴ |
| دروازه بالا | ۸۸۰ | ۰ | ۸۸۰ |
| راغستان | ۵۰۳ | ۸۵۴ | ۱,۳۵۷ |
| زیباک | ۱۹ | ۱۶۴ | ۱۸۳ |
| شکی | ۱,۰۵۷ | ۶۸۸ | ۱,۷۴۵ |
| شهدا | ۱,۰۵۶ | ۵۸۹ | ۱,۶۴۵ |
| شهربزرګ | ۱۰,۵۸۶ | ۴,۲۲۱ | ۱۴,۸۰۷ |
| شیغنان | ۸۵ | ۹۲۶ | ۱,۰۱۱ |
| فیض آباد | ۱,۴۲۱ | ۸,۵۶۴ | ۹,۹۸۵ |
| کشم | ۱۰,۴۱۴ | ۷,۸۳۲ | ۱۸,۲۴۶ |
| کوف آب | ۲,۲۲۱ | ۰ | ۲,۲۲۱ |
| کوهستان | ۲۵۹ | ۰ | ۲۵۹ |
| واخان | ۱۳۶ | ۵۳ | ۱۸۹ |
| یاوان | ۱۶۰ | ۲۱ | ۱۸۱ |
| یفتل سفلی | ۶۹۳ | ۲۸۳ | ۹۷۶ |
| عمومي مجموعه | ۵۶,۵۴۴ | ۴۴,۵۴۰ | ۱۰۱,۰۸۴ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

دا هغه افغانان دي چې لـه يـوې ارزول شـوې سـيمې څخـه چـې هلته يـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه يـوې بلـې سـيمې ته تلـلي دي تر څو د وسـلـه والـو جګـړو، تاوتريخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندېښـنې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خونديي ووسي.


**۹۵،۴۲۰** داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

**۵۳٪** په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي


**۳۶٪** د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۶۴٪** د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | بدخشان




داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | کلنۍ بهير | بدخشان




د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځايه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوي سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقوقو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۱۴۰،۳۸۵**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۹۱٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۲ څخه ۱**
پخوانی داخلي بېځايه شوی کس يوازې ۴ ولسواليو ته راستون شوی: درواز، شهر بزرګ، شغنان او تګاب (۵۵٪)


**۵ څخه ۱**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځايه شويو له ډلې ۱۸٪ کسان درواز ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | بدخشان




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهير | بدخشان



د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګاني

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوي سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا موده لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښی وي.


**۶۵،۳۱۴**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۴،۹۵۹**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۸٪)


**۵۵،۶۸۱**
ایران ته تللي دي (۸۵٪)

**۴،۴۳۴**
پاکستان ته تللي دي (۷٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بدخشان





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | بدخشان





ترکیه او اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بدخشان





ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بدخشان




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | بدخشان




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بدخشان



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کشم | ۱۸،۲۴۶ |
| ۲ | بهارک | ۱۵،۰۲۹ |
| ۳ | شهربزرګ | ۱۴،۸۰۷ |
| ۴ | فیض آباد | ۹،۹۸۵ |
| ۵ | جرم | ۶،۹۱۶ |
| عمومي مجموعه | | ۶۴،۹۸۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | تشکان | ۲۳۱ |
| ۲ | کشم | ۷۱ |
| ۳ | ارګو | ۵۳ |
| ۴ | یفتل سفلی | ۳۹ |
| ۵ | بهارک | ۱۱ |
| عمومي مجموعه | | ۴۰۴ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لري)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بهارک | ۳،۳۵۵ |
| ۲ | کشم | ۲،۷۱۵ |
| ۳ | تکاب | ۲،۳۰۸ |
| ۴ | شهربزرګ | ۱،۸۷۹ |
| ۵ | جرم | ۷۲۸ |
| عمومي مجموعه | | ۱۰،۹۸۵ |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیاي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لري)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شهربزرګ | ۹،۰۲۲ |
| ۲ | بهارک | ۸،۱۹۴ |
| ۳ | کشم | ۶،۰۱۷ |
| ۴ | تکاب | ۳،۲۴۰ |
| ۵ | فیض آباد | ۱،۷۶۲ |
| عمومي مجموعه | | ۲۸،۲۳۵ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لري)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کشم | ۴،۴۶۴ |
| ۲ | بهارک | ۴،۱۴۶ |
| ۳ | شهربزرګ | ۲،۴۱۷ |
| ۴ | درایم | ۱،۱۰۸ |
| ۵ | تکاب | ۶۸۲ |
| عمومي مجموعه | | ۱۲،۸۱۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لري)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شهربزرګ | ۵،۶۵۰ |
| ۲ | تکاب | ۵،۴۹۴ |
| ۳ | درایم | ۴،۳۸۱ |
| ۴ | کشم | ۴،۲۱۱ |
| ۵ | بهارک | ۴،۲۰۳ |
| عمومي مجموعه | | ۲۳،۹۳۹ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | بدخشان




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### له بلواګرو څخه په تېښته کې

کله چې عبدالحمید د خپلې ۱۱ کسیزې کورنۍ سره د بدخشان ولایت په جرم ولسوالۍ کې اوسېده بلواګرو د هغوی په کلي برید وکړ. هغه د بلواګرو په اړه خبرې کوي او وايي چې بلواګرو د هغه کورنۍ دې ته اړ کوله چې هغوی ته خواړه ورکړې او د هغه له زوی څخه یې غوښتل چې له هغوی سره د حکومت پر وړاندې جګړې کې ګډون وکړي. خو عبدالحمید د بلواګرو پر وړاندې مقاومت کاوه او د هغوی وړاندیزونه یې رد کول. یوه ورځ د عبدالحمید یو ګاونډي ورته ویلې چې بلواګر د هغه د تښتولو او په غره کې د هغه د وژلو پرېکړه لري.

عبدالحمید د خپل کورنۍ د خوندي توب لپاره د جرم ولسوالۍ مرکز ته کډه وکړه خو هلته د عبدالحمید په شان کارګر ته د کار کولو فرصتونو شتون نه درلوده. د عبدالحمید مېرمنې له هغه څخه وغوښتل ترڅو یوې امنې ولسوالۍ ته کډه وکړي نو ځکه هغوی اشکمش ولسوالۍ ته ولاړل. د عبدالحمید کورنۍ د ۶،۴۰۱ داخلي بېځایه شویو کسانو له ډلې څخه ده چې جرم ولسوالۍ یې پرېښې.

اوسمهال، عبدالحمید د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره په اشکمش ولسوالۍ کې ژوند کوي. سره له دې چې دا ځای د هغوی لپاره خوندي دی خو د ژوند د اړتیاوو پوره کولو لپاره ډېر لږ فرصتونه شتون لري.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.




عبدالحمید له خپلې کورنۍ سره په اشکمش ولسوالۍ کې ژوند کوي او په دې نوې سیمه کې د خواړو او کاري فرصتونو نشوالي تر څنګ د ژوندانه له خراب وضعیت څخه رنځ وړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړيوال ملاتړ ټيم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسايل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکيت، سيمه او يا هم د هغه د چارواکو او يا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړيوال سازمان له هېڅ نظر يا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زياتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړيکه کې شئ**

د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټيم سره په اړيکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي
Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږۍ سره